د اسلامي عقيدې زده‌کړه – شپږمه برخه

عقل او تدبر؛ د کايناتو په نښو کې د الله تعالی د عظمت او پېژندنې لارې

ليکوال: محمد شريف (صداقت)

تاريخ: ١٤٠٥/٨/٢٦

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish


بسم الله الرحمن الرحيم

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سریزه

انسان هره ورځ د خپل ژوند په چاپېریال کې داسې پېښې او نعمتونه وینې چې ښایي د عادت له امله ورته پام ونه کړي: لمر راخېژي او لوېږي، شپه او ورځ یو د بل ځای نیسي، بادونه لګېږي، وریځې راټولېږي، باران اوري، اوبه بهېږي، تخمونه شنېږي او اور تودوخه او رڼا خپروي.

خو که انسان لږ تم شي او په دې پدیدو کې فکر وکړي، له ځانه به وپوښتي: دا نظام چا پیدا کړی؟ دا هر څه څنګه په دومره منظم ډول روان دي؟ د ژوند لپاره اړین شرایط چا برابر کړي دي؟ او ولې انسان د دې ټولو نعمتونو په منځ کې ژوند کوي؟

الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ (۱)

ژباړه: ښېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په بدلېدو کې د عقل خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي.

دا آیت موږ ته رابنیي چې د کایناتو نظام یوازې د لیدلو او تېرېدو لپاره نه دی؛ بلکې د عقل، فکر او تدبر خاوندان د دې نظام په نښو کې د الله تعالی قدرت، علم، حکمت او ربوبیت پېژني.

په تېره، پنځمه برخه کې مو د عقل، فکر، تدبر او غفلت په اړه خبرې وکړې. هلته مو څرګنده کړه چې عقل د پوهېدو وسیله ده، فکر انسان د حقایقو څېړلو ته هڅوي او تدبر د شیانو د معنا، پایلو او پیغامونو په اړه ژور سوچ ته وایي. همدارنګه مو وښېرله چې غفلت انسان د فکر او تدبر له ګټو محروموي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې برخه کې د هماغو مفاهیمو عملي ښېلګې وړاندې کوو. ګورو چې څنګه د شپې او ورځې په بدلون، د ځمکې په حرکت، د فصلونو په راڅرګندېدو، د بادونو او باران په نظام، د اوبو په دوران، د تخم په شنېدو او د انسان په خپل وجود کې د الله تعالی نښې وینو.

زمونږ موخه یوازې د طبیعت په اړه معلومات ترلاسه کول نه دي؛ بلکې غواړو د عقل او علم په مرسته د دغو پدیدو څرنګوالی وپېژنو، د تدبر له لارې د الله تعالی قدرت او حکمت درک کړو، د هغه د نعمتونو شکر ادا کړو او خپل مسؤلیتونه وپېژنو.

دلته یوه بنسټیزه عقیدوي خبره باید له پیله روښانه وي: د ځمکې، لمر، سپوږمۍ، نباتاتو، انسان او ټول کاینات خالق یوازې الله تعالی دی؛ له هغه پرته هېڅوک د دې مخلوقاتو خالق نه دی. انسان د الله تعالی په پیدا کړې نظام کې لاملونه کاروي، هڅې کوي او له نعمتونو ګټه اخلي؛ خو د پیدایښت خپلواک واک یوازې د الله تعالی دی.

د ښېلګې په توګه، بزګر ځمکه اړوي، تخم کري او اوبه ورکوي؛ خو د تخم خالق، د ژوند ورکوونکی او د نباتاتو د ودې د نظام پیدا کوونکی الله تعالی دی. ډاکټر د ناروغۍ د درملنې هڅه کوي؛ خو د انسان او د هغه د بدن خالق الله تعالی دی. انسان د بادونو، بارانونو او اوبو په اړه علم ترلاسه کوي؛ خو د دغو نظامونو پیدا کوونکی او مدبر الله تعالی دی.

همدا توپیر د دې ټولې برخې بنسټ جوړوي: انسان لاملونه کاروي، خو خالق الله تعالی دی؛ انسان هڅه کوي، خو د پیدایښت او ژوند خپلواک واک یوازې د الله تعالی دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لومړی بحث: د شپې او ورځې بدلون؛ د الله تعالی د قدرت او رحمت نښه

مور هره ورځ د شپې او ورځې بدلون وینو. سهار رڼا خپریږي، خلک خپلو کارونو ته ځي، د ورځې فعالیتونه ترسره کیږي او د ماښام په راتلو سره تیاره خپریږي. انسان د دې بدلون له عادت سره دومره بلد شوی چې کله ناکله یې د دې ستر نعمت په اړه فکر هم نه کوي.

خو که فرض کړو چې شپه او ورځ به هېڅکله نه بدلېدل، یا به تل شپه وه او یا به تل ورځ؛ د انسان او نورو ژوو ژوند به له څومره ستونزو سره مخ شوی وای؟

الله تعالی فرمایي:

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ۝ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ (۳)

ژباړه: ووایه: ایا تاسو فکر کړی دی، که الله تعالی پر تاسو د قیامت تر ورځې پورې تلپاتې شپه راولي، له الله پرته کوم بل معبود شته چې تاسو ته رڼا راولي؟ ایا تاسو نه اورئ؟ ووایه: ایا تاسو فکر کړی دی، که الله تعالی پر تاسو د قیامت تر ورځې پورې تلپاتې ورځ راولي، له الله پرته کوم بل معبود شته چې تاسو ته شپه راولي، څو پکې ارام وکړئ؟ ایا تاسو نه وینئ؟

الله تعالی په دې آیتونو کې انسان د شپې او ورځې د نعمت په اړه فکر کولو ته رابولي. شپه د ارام، سکون او استراحت لپاره ده او ورځ د کار، هڅې او د ژوند د چارو د ترسره کولو لپاره.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د شپې او ورځې د بدلون علمي څرنګوالی هم د فکر وړ دی. ځمکه پر خپل محور څرخي؛ د همدې څرخي حرکت له امله د ځمکې ښلابښلې برخې په نوبت د لمر رڼا تراسه کوي. د ځمکې د یوه بشپړ لمر-اړوند دوران موده نږدې ۲۴ ساعته ده، خو د ستورو په نسبت یې یو بشپړ دوران نږدې ۲۳ ساعته او ٥٦ دقیقې وخت نیسي. (۲)

دا علمي معلومات موږ ته د پېښې څرنګوالی رابنیي؛ خو د دې نظام خالق څوک دی؟ د ځمکې، لمر او د شپې او ورځې د بدلون د نظام پیدا کوونکی یوازې الله تعالی دی.

الله تعالی د همدې سورت په بل آیت کې فرمایي:

﴿وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ (۳)

ژباړه: او د هغه له رحمت څخه دا دي چې تاسو ته یې شپه او ورځ پیدا کړې دي، څو په شپه کې ارام وکړئ او د ورځې د هغه له فضل څخه روزي ولټوئ، او ښایي چې شکر ادا کړئ.

د تدبر لپاره څو پوښتنې:

- که شپه او ورځ نه وای، د انسان ژوند به څنګه و؟
- ایا موږ د شپې د ارام او د ورځې د کار کولو د نعمت شکر ادا کوو؟
- ایا د خپل وخت ارزښت پېژنو او که یې بې‌ګټې تېروو؟

د فکر پایله: د شپې او ورځې بدلون یوازې یوه عادي طبیعي پېښه نه ده؛ بلکې د الله تعالی د قدرت، رحمت او حکمت څرګنده نښه ده. هغه ذات چې دا نظام یې پیدا کړی، د شکر او عبادت مستحق هم یوازې هماغه دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دویم بحث: د ځمکې حرکت او د کایناتو منظم نظام

ځمکه زمور د ژوند ځای دی. مور پرې ژوند کوو، کرنه کوو، ودانۍ جوړوو او د ژوند بېلابېلې چارې ترسره کوو. خو ایا کله مو فکر کړی چې دا ځمکه څنګه حرکت کوي او ولې د هغې حرکت زمور د ژوند لپاره په دومره منظم نظام کې روان دی؟

ځمکه دوه مهم حرکتونه لري:

لومړی: پر خپل محور څرخي. د همدې حرکت له امله شپه او ورځ رامنځته کېږي. د ځمکې بېلابېلې برخې په نوبت د لمر رڼا ترلاسه کوي.

دویم: د لمر شاوخوا ګرځي. ځمکه د لمر شاوخوا په خپل مدار کې حرکت کوي او یو بشپړ دوران یې نږدې ۳٦۵ ورځې او شپږ ساعته وخت نیسي. (۲)

د ځمکې د محور کږوالی، د هغې مداري حرکت او د لمر د رڼا د ترلاسه کولو توپیر د فصلونو په بدلون کې مهم رول لري.

همدارنګه د ځمکې جاذبه د دې سبب ګرځي چې انسانان، اوبه او ګڼ نور شیان د ځمکې پر سطحه پاتې شي. د ځمکې د جاذبې او نورو طبیعي قوانینو له امله د ژوند ډېر اړین شرایط برابر شوي دي.

انسان د ستورپوهنې او نورو علومو په مرسته د ځمکې حرکتونه اندازه کوي، د هغې د مدار په اړه معلومات ترلاسه کوي او د کایناتو د نظام په اړه څېړنې کوي. خو د دې نظام خالق انسان نه دی. انسان نه ځمکه پیدا کړې، نه یې لمر پیدا کړی او نه یې د دې دواړو ترمنځ د حرکت نظام رامنځته کړی دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د ځمکې، لمر او ټول کاینات خالق یوازې الله تعالی دی؛ له هغه پرته هېڅوک د کایناتو خالق نه دی.

الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ (١)

ژباړه: بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په بدلېدو کې د عقل خاوندانو لپاره نښې دي.

د ساعت مثال په پام کې ونیسئ: که یو ساعت په منظم ډول کار کوي، انسان د هغه د جوړوونکي په اړه پوښتنه کوي. نو دا پراخ او منظم کاینات، چې د ځمکې او لمر په څېر ستر اجرام پکې په ټاکلو مدارونو کې حرکت کوي، ولې د فکر او تدبر وړ نه دي؟

البته، د ساعت مثال یوازې د فکر د نړدې کولو لپاره دی؛ کاینات د ساعت په څېر ساده جوړښت نه لري. د کایناتو نظام د الله تعالی د علم، قدرت او حکمت ستره نښه ده.

د تدبر پایله: د کایناتو د نظام په اړه پوهه ترلاسه کول د انسان علم زیاتوي، خو د دې نظام په خالق فکر کول د ایمان، عاجزۍ او د الله تعالی د پېژندنې لامل ګرځي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

درېيم بحث: د فصلونو بدلون؛ د ځمکې او لمر ترمنځ د الله تعالی ټاکلی نظام

په ځمکه کې د پسرلي، اوړي، مني او ژمي بدلون د ژوند يوه مهمه برخه ده. په پسرلي کې ونې غوړېږي، بوټي شنه کېږي او د ځمکې په ډېرو برخو کې د ژوند ښکلا تازه کېږي. په اوړي کې تودوخه زياتېږي، په مني کې د ونو پاڼې رژېږي او په ژمي کې په ډېرو سيمو کې سړه هوا او واوره راځي.

د فصلونو د بدلون يو مهم لامل د ځمکې د محور کړوالی دی. د ځمکې محور د هغې د مدار د سطحې په نسبت نږدې ۲۳٫۴ درجې کږ دی. کله چې د ځمکې يوه نيمه کره د لمر پر لور زياته مايله وي، هلته د ورځې اوږدوالی او د لمر د وړانګو د ترلاسه کولو اندازه زياتېږي او اوړی وي؛ په مقابل نيمه کره کې بيا ژمی وي. (۴)

له همدې امله په شمالي نيمه کره کې د اوړي پر مهال په جنوبي نيمه کره کې ژمی وي، او برعکس.

دا هم مهمه ده چې د فصلونو بدلون يوازې له لمر څخه د ځمکې د نږدېوالي او لرېوالي له امله نه دی؛ بلکې د ځمکې د محور کړوالی او د لمر د وړانګو د لګېدو زاويه پکې اساسي رول لري.

د استوا کربنې ته نږدې سيمې د کال په اوږدو کې د لمر نسبتاً مستقيمې وړانګې ترلاسه کوي، خو قطبي سيمې د لمر د وړانګو د زاويې او د ورځې د اوږدوالي له امله د تودوخې ډېر توپيرونه لري.

اوس له ځانه وپوښتئ: د ځمکې دا حرکت، د محور دا کړوالی او د لمر د وړانګو دا منظم بدلون چا پيدا کړی دی؟

انسان د فصلونو علمي لاملونه څېړلای شي، د هوا بدلون اټکلولای شي او د کرنې لپاره مناسب وخت ټاکلای شي؛ خو د ځمکې، لمر او د فصلونو د بدلون د نظام خالق يوازې الله تعالی دی.

الله تعالی فرمايي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ (١)

ژباړه: بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په بدلېدو کې د عقل خاوندانو لپاره نښې دي.

د تدبر لپاره:

- ایا د فصلونو بدلون د انسان د ژوند، کرنې او خوراکي توکو په برابرولو کې مهم رول نه لري؟
- ایا انسان د دې نظام په اړه د پوهې ترلاسه کولو ترڅنګ د الله تعالی شکر هم ادا کوي؟
- که د فصلونو نظام ګډوډ وای، د ژوند پر شرایطو به یې څه اغېز درلود؟

د فکر پایله: د فصلونو بدلون د الله تعالی د قدرت او حکمت یوه څرګنده نښه ده. انسان باید د دې نظام په لیدلو سره د خپل رب عظمت وپېژني او د هغه د نعمتونو شکر ادا کړي.

څلورم بحث: بادونه؛ د الله تعالی د تدبیر او د ژوند د اړتیاوو یوه نښه

بادونه د ځمکې د هوا د نظام یوه مهمه برخه ده. کله نرم باد لګېږي، کله تېز او کله د توپان په بڼه راڅرګندېږي. بادونه د تودوخې په وېش، د رطوبت په لېږد، د وربڅو په حرکت او د هوا په بدلون کې مهم رول لري.

هوا له بېلابېلو ګازونو جوړه ده. په وچه هوا کې نږدې ۷۸ سلنه نایتروجن، ۲۱ سلنه اکسیجن او شاوخوا یوه سلنه نور ګازونه موجود دي. د اوبو بخار هم په هوا کې شته، خو اندازه یې د سیمې او هوا له شرایطو سره بدلېږي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د بادونو د رامنځته کېدو یو مهم لامل د هوا د فشار توپیر دی. هوا عموماً له هغو سیمو څخه چې فشار پکې لوړ وي، د ټیټ فشار سیمو ته حرکت کوي. د ځمکې څرخي حرکت هم د بادونو پر لوري اغېز کوي؛ دې اغېز ته د کوریولیس اغېز ویل کېږي. (۵)

بادونه ډېرې ګټې لري:

- د هوا د تودوخې او رطوبت په لېږد کې مرسته کوي.
- د ورېځو او باران په نظام کې رول لري.
- د نباتاتو د ځینو تخمونو او ګردونو په خپرېدو کې مرسته کوي.
- د باد له انرژۍ څخه د برېښنا په تولید کې ګټه اخیستل کېږي.

خو کله ناکله سخت بادونه او توپانونه د خلکو ژوند، کورونو، کروندو او شتمنیو ته زیان هم رسوي.

الله تعالی فرمایي:

﴿اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ﴾ (٦)

ژباړه: الله هماغه ذات دی چې بادونه لېږي، بیا هغه بادونه ورېځې راپورته کوي؛ نو الله یې په اسمان کې څنګه چې وغواړي خپروي او ټوټې ټوټې کوي یې، بیا ته وینې چې باران یې له منځ څخه راووځي.

په دې آیت کې الله تعالی په څرګنده فرمایي چې بادونه هغه لېږي او د ورېځو د حرکت او خپرېدو نظام د هغه په تدبیر روان دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

انسان د بادونو د لوري، سرعت او فشار په اړه څېړنې کولای شي، د باد انرژي کارولای شي او د توپانونو د خطر اټکل کولای شي؛ خو د بادونو خالق او د هغوی د نظام تدبیر کوونکی یوازې الله تعالی دی.

د تدبر لپاره:

- ایا کله مو د نرم باد په لګېدو کې د الله تعالی د رحمت احساس کړی؟
- ایا د بادونو د ګټو ترڅنګ د هغوی د زیانونو په اړه هم فکر کوو؟
- ایا انسان باید د طبیعي نعمتونو د کارولو پر مهال د نورو خلکو او چاپېریال حقونه په پام کې ونه نیسي؟

د فکر پایله: بادونه یوازې د هوا حرکت نه دی؛ بلکې د الله تعالی د تدبیر او د ژوند د نظام یوه نښه ده. انسان باید له دې نعمت څخه په ګټوره او مسؤلانه توګه استفاده وکړي.

پنځم بحث: وربځې او باران؛ د الله تعالی د رحمت او د مړې ځمکې د ژوندي کېدو نښه

کله چې اسمان ته وګورو، وربځې وینو چې کله سپینې او نری وي، کله توري او درنې شي او کله د باران زېری راوړي.

خو وربځې څنګه جوړېږي او باران څنګه اوري؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د لمر د تودوخې له امله د سیندونو، جهیلونو، سمندرونو او د ځمکې د سطحې اوبه تبخیر کېږي. نباتات هم د خپلو پاڼو له لارې د اوبو یوه برخه هوا ته خوشې کوي. دا لندبل لرونکې هوا پورته خېژي، سړېږي او د اوبو بخار یې پر وړو ذرو لکه دوړو، مالګې او نورو کوچنیو ذراتو راټولېږي. په دې توګه د ورېځو واړه څاڅکي یا د یخ واړه بلورونه جوړېږي. (۷)

کله چې د ورېځو څاڅکي سره یوځای شي او لوی شي، یا د یخ بلورونه وده وکړي، د ورښت شرایط برابرېږي. د ورښت بڼه د هوا د تودوخې او نورو شرایطو له مخې باران، واوره یا ږلۍ کېدای شي. (۸)

الله تعالی فرمایي:

﴿اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ﴾ (٦)

ژباړه: الله هماغه ذات دی چې بادونه لېږي، بیا هغه بادونه ورېځې راپورته کوي؛ نو الله یې په اسمان کې څنګه چې وغواړي خپروي او ټوټې ټوټې کوي یې، بیا ته وینې چې باران یې له منځ څخه راووځي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمایي:

﴿فَانْظُرْ إِلَىٰ آثَارِ رَحْمَتِ اللَّهِ كَيْفَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ (٩)

ژباړه: نو د الله د رحمت نښو ته وګوره چې څنګه ځمکه د هغې له مړاوي کېدو وروسته ژوندۍ کوي. بېشکه همدغه ذات د مړو ژوندي کوونکی دی او هغه پر هر څه قادر دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې آیت کې الله تعالی انسان ته د باران له املـه د مړې ځمکې د بیا ژوندي کېدو نښه ورښیي. هغه ځمکه چې وچکالی وهلې وي، د باران په راتلو سره شنه کېږي، نباتات پکې راټوکېږي او د ژوند نښې پکې څرګندېږي.

د باران د ورښت د نظام تدبیر د الله تعالی په واک کې دی. انسان د هوا پېژندنې په مرسته د باران اټکل کولای شي، د اوبو د زېرمه کولو بندونه جوړولای شي او د اوبو د ضایع کېدو مخه نیولای شي؛ خو د باران خالق، نازل کوونکی او د دې نظام مدبر یوازې الله تعالی دی.

د تدبر لپاره:

- که باران نه وای، د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو ژوند به له کومو ستونزو سره مخ شوی وای؟
- ایا مور د باران د نعمت په وړاندې د شکر او مسؤلیت احساس کوو؟
- ایا د اوبو د ضایع کېدو او د چاپېریال د خرابېدو مخنیوی زمور مسؤلیت نه دی؟

د فکر پایله: باران د الله تعالی د رحمت یوه ستره نښه ده. هغه ځمکه چې وچه او مړه ښکاري، الله تعالی یې په باران ژوندۍ کوي؛ دا د قیامت په ورځ د مړو د بیا ژوندي کېدو لپاره هم د فکر او عبرت یوه څرګنده نښه ده.

شپږم بحث: د اوبو دوران؛ د ژوند د دوام لپاره د الله تعالی پیدا کړی نظام

اوبه د ژوند له مهمو اړتیاوو څخه دي. انسان، حیوانات او نباتات ټول اوبو ته اړتیا لري. که اوبه نه وای، د ځمکې پر مخ د ژوند دوام به ناشونی و.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د اوبو دوران په طبیعت کې یوه پرله‌پسې پروسه ده:

۱. تبخیر: د لمر د تودوخې له امله د سیندونو، سمندرونو، جهیلونو او نورو اوبو یوه برخه د بخار په بڼه هوا ته پورته کېږي.

۲. د نباتاتو له لارې د اوبو خوشې کېدل: نباتات د خپلو پاڼو له لارې د اوبو یوه برخه هوا ته خوشې کوي. دې پروسې ته تعرّق ویل کېږي.

۳. تکاثف: د اوبو بخار په لوړو او سړو سیمو کې سړېږي او په وړو څاڅکو بدلېږي؛ په دې توګه وریځې جوړېږي.

۴. ورښت: اوبه د باران، واورې یا ژلې په بڼه ببرته ځمکې ته راکوزېږي.

۵. د اوبو بهېدل او جذبېدل: د باران یوه برخه د ځمکې پر مخ بهېږي او سیندونو، جهیلونو او سمندرونو ته رسېږي؛ بله برخه د ځمکې په خاوره کې جذبېږي او د ځمکې لاندې اوبو زېرمې جوړوي.

٦. د اوبو زېرمه کېدل: اوبه په سمندرونو، جهیلونو، سیندونو، واورو، یخچالونو او د ځمکې لاندې زېرمو کې پاتې کېږي او د مناسب شرایطو په برابرېدو سره ببرته د دوران برخه ګرځي. (۱۰)

الله تعالی فرمایي:

﴿أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ۝ أَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُونَ ۝ لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ﴾ (۱۱)

ژباړه: ایا تاسو هغه اوبه لیدلې دي چې څښئ یې؟ ایا تاسو له وریځو څخه راکوزې کړې دي، که موږ یې راکوزوونکي یو؟ که موږ وغواړو، دا اوبه تروې او د څښلو وړ نه ګرځوو؛ نو ولې شکر نه ادا کوئ؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دا آیت انسان د څښاک د اوبو په اړه فکر کولو ته رابولي. مور اوبه څښو، په کرنه کې يې کاروو، کورونه پرې پاکوو او د ژوند ډېرې چارې پرې ترسره کوو؛ خو کله مو فکر کړی چې که الله تعالی د اوبو دا نظام نه وای پیدا کړی، زمور ژوند به څنګه و؟

د سورة الملک په وروستي آیت کې هم الله تعالی انسان ته د اوبو د نعمت او د خپل قدرت په اړه داسې فکر ورپه زړه کوي:

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ﴾ (١٢)

ژباړه: ووایه: ایا تاسو فکر کړی دی، که ستاسو اوبه په ځمکه کې ژورې ولاړې شي، نو څوک به تاسو ته روانې اوبه راوړي؟

دا آیت د سورة الملک وروستی آیت دی او د اوبو د نعمت په اړه یوه ډېره ژوره پوښتنه وړاندې کوي: که هغه اوبه چې تاسو يې څښئ او ورځنی ژوند مو پرې روان دی، د ځمکې په تل کې دومره ژورې لاړې شي چې تاسو ورته لاسرسی ونه لرئ، څوک به يې بېرته تاسو ته راوړي؟

انسان څاه‌ګانې کیندلای شي، د اوبو پمپونه جوړولای شي، بندونه او زېرمې جوړولای شي او د اوبو د پاکولو فابریکې چلولای شي؛ خو دا ټول وسایل د الله تعالی په پیدا کړي نظام کې د انسان هڅې دي. انسان نه د اوبو خالق دی، نه د باران نازل کوونکی او نه د ځمکې د اوبو د زېرمو خپلواک مالک.

د اوبو د دوران او د ژوند لپاره د دې نظام خالق یوازې الله تعالی دی. هغه د اوبو د پیدایښت، د باران د ورښت، د ځمکې د اوبو او د ژوند د دوام نظام پیدا کړی او تدبیر يې کوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د انسان دنده دا نه ده چې یوازې اوبه وکاروي، بلکې د اوبو په ساتنه، سپما او عادلانه وېش کې هم مسؤلیت لري. د اوبو بې‌ځایه ضایع کول، د سیندونو ککړول او د نورو خلکو له حقه تېرې کول د نعمت ناشکري ده.

د تدبر لپاره:

- ایا د څښاک د پاکو اوبو ارزښت پېژنو؟
- که د اوبو دوران ګډوډ شي، د ژوند پر نظام به څه اغېز وکړي؟
- که زموږ د څښاک اوبه د ځمکې په تل کې ورکې شي، ایا انسان یې په خپلواک قدرت بېرته راایستلای شي؟
- ایا د اوبو د سپما او پاک ساتلو لپاره خپل مسؤلیت ترسره کوو؟

د فکر پایله: د اوبو د دوران او د ژوند د دې نظام خالق یوازې الله تعالی دی. انسان باید د دې ستر نعمت شکر ادا کړي او په ساتنه کې یې خپل مسؤلیت ترسره کړي. د سورة الملک وروستۍ آیت موږ ته رابنیي چې انسان د اوبو په څېر بنسټیز نعمت ته څومره اړ دی او د الله تعالی له رحمت پرته څومره بې‌وسه دی.

اووم بحث: تخم او نباتات؛ د ژوند د راټوکېدو او د الله تعالی د خالقیت نښه

کله چې یو تخم په خاوره کې وکرل شي، په مناسب وخت کې اوبه ورکړل شي او د ودې لپاره اړین شرایط ورته برابر شي، ورو ورو شنېږي. له هغه کوچني تخم څخه ریښه، ډډ، پاڼې او بیا بشپړ نبات جوړېږي.

خو دا بهیر څنګه ترسره کېږي؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د نبات په تخم کې د نوي نبات جنين موجود وي او د ودې په لومړيو پړاوونو کې له زېرمه شوي غذا څخه ګټه اخلي. کله چې تخم اوبه جذب کړي، د شنبدو بهير پيلېږي. د تخم د ډول له مخې د مناسبې تودوخې، اکسيجن او کله ناکله د رڼا يا تيارو اړتيا هم موجوده وي.

د شنبدو په بهير کې لومړی ريښه راووځي او نبات د خاورې له موادو او اوبو څخه د ګټې اخيستلو وړ ګرځي. وروسته ډډ او پاڼې وده کوي. (۱۳)

کله چې پاڼې د کلوروفيل په مرسته د لمر رڼا ترلاسه کړي، نبات د فوتوسنتز يا ضيايي ترکيب پروسه ترسره کوي. په دې بهير کې نبات د هوا کاربن ډای‌اکسايډ او اوبه کاروي او د رڼا په مرسته د خپلې ودې لپاره غذايي مواد جوړوي؛ اکسيجن هم د دې پروسې په ترڅ کې خوشې کېږي. (۱۴)

دا ټولې مرحلې د فکر وړ دي: يو کوچنی تخم په خاوره کې پروت وي، خو کله چې مناسب شرايط ورته برابر شي، ژوند پکې راڅرګندېږي، ريښې او پاڼې جوړوي او په پای کې يو لوی نبات ترې رامنځته کېږي.

الله تعالى فرمايي:

﴿أَفَرَأَيْتُمْ مَا تَحْرُثُونَ ۝ أَأَنْتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ﴾ (۱۵)

ژباړه: ايا تاسو هغه څه ليدلي دي چې کرئ يې؟ ايا تاسو يې شنوئ، که مور يې شنوونکي يو؟

په دې آيت کې الله تعالى انسان ته د کرنې او نباتاتو د ودې په اړه فکر ورپه زړه کوي. انسان ځمکه اړوي، تخم کري، اوبه ورکوي، سرې کاروي او د نباتاتو د ساتنې لپاره هڅې کوي؛ خو ايا انسان د تخم خالق دی؟ ايا انسان په خپلواک ډول د ژوند ځواک پيدا کولای شي؟ ايا انسان د نباتاتو د ودې ټول نظام رامنځته کړی دی؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ځواب څرګند دی: نه!

انسان د نباتاتو علم زده کولای شي، د کرنې طریقې ښه کولای شي، تخم کرلای شي، ځمکه چمتو کولای شي او د حاصل د زیاتولو لپاره هڅې کولای شي؛ خو د نباتاتو خالق، د هغوی د ژوند ورکوونکی او د ودې د نظام پیدا کوونکی یوازې الله تعالی دی.

انسان نه تخم له هېڅه پیدا کوي، نه د ژوند ځواک په خپلواک ډول رامنځته کوي او نه د ودې ټول نظام جوړوي؛ بلکې د الله تعالی په پیدا کړي نظام کې تخم کري او له هغو لاملونو ګټه اخلي چې الله تعالی پیدا کړي دي.

دا خبره د انسان هڅې نه نفی کوي؛ کرنه، اوبه ورکول او د نباتاتو ساتنه د انسان حقیقي هڅې دي، خو دا هڅې د الله تعالی د پیدا کړي نظام په دننه کې ترسره کېږي. انسان لاملونه کاروي، خو خالق الله تعالی دی.

الله تعالی په همدې سورت کې فرمایي:

﴿لَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَاهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ﴾ (١٥)

ژباړه: که مونږ وغواړو، دا کښت به وچ او مات شوي خس وګرځوو، بیا به تاسو حیران او افسوس کوونکي پاتې شئ.

دا آیت انسان ته ورښیي چې د حاصل ترلاسه کول یوازې د انسان د هڅو پایله نه ده؛ بلکې د الله تعالی په اراده او قدرت پورې تړلي دي. انسان باید هڅه وکړي، خو د خپلې هڅې په پایله مغرور نه شي او د الله تعالی شکر ادا کړي.

د تدبر لپاره:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- ایا کله مو د یوه کوچني تخم په اړه فکر کړی چې څنګه په لوی نبات بدلېږي؟
- ایا د کرنې تر څنګ د الله تعالی د خالقیت او نعمتونو یادونه هم کوو؟
- که الله تعالی د تخمونو د شنېدو او د نباتاتو د ودې نظام پیدا کړی نه وای، انسان به څنګه خواړه ترلاسه کول؟

د فکر پایله: تخم انسان کري، خو د ژوند او نباتاتو خالق یوازې الله تعالی دی. کرنه د انسان هڅه ده، خو د ژوند پیدا کول او د نباتاتو د ودې نظام د الله تعالی په قدرت او تدبیر پورې تړلی دی.

اتم بحث: اور؛ د الله تعالی د قدرت نښه او د انسان لپاره ګټور نعمت

اور د انسان د ژوند له پخوانیو پېژندل شویو وسیلو څخه دی. انسان له اور څخه د پخلي، تودوخې، رڼا او ګڼو صنعتي چارو لپاره ګټه اخلي.

خو اور څنګه رامنځته کېږي؟

د اور د بلېدو لپاره عموماً درې اساسي شرایط اړین دي:

۱. **سون توکي:** لکه لرګي، کاغذ، تېل او نور سوځېدونکي مواد.

۲. **اکسیجن:** د هوا اکسیجن د سوځېدو په بهیر کې مرسته کوي.

۳. **تودوخه:** د موادو د بلېدو لپاره اړینه تودوخه برابروي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دې درېيو ته د اور مثلث ويل کېږي. که له دې درېيو څخه يو شرط لرې شي، د اور بلېدل يا دوام يې له ستونزې سره مخ کېږي. (١٦)

انسان کولای شي اور بل کړي، د اور د خپرېدو مخه ونيسي، د اور وژنې وسايل وکاروي او له اور څخه د اړتياوو لپاره ګټه واخلي. خو د لرګيو، نباتاتو، اکسيجن او د سوځېدو د طبيعي نظام خالق انسان نه دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ۝ أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُونَ ۝ نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً وَمَتَاعًا لِلْمُقْوِينَ﴾ (١٧)

ژباړه: ايا تاسو هغه اور ليدلی دی چې بلوی يې؟ ايا تاسو د هغه ونه پيدا کړې ده، که مورږ يې پيدا کوونکي يو؟ مورږ هغه د يادونې وسيله او د مسافرو او اړمنو خلکو لپاره د ګټې وسيله ګرځولې ده.

په دې آيت کې الله تعالی انسان ته د اور د سرچينې او ګټې په اړه فکر ورپه زړه کوي. هغه ونه چې لرګي ترې ترلاسه کېږي، د الله تعالی مخلوق ده؛ هغه طبيعي نظام چې د اور د بلېدو شرايط پکې برابر شوي، د الله تعالی پيدا کړی نظام دی.

الله تعالی اور د يادونې او ګټې وسيله ګرځولې ده. انسان له هغه څخه د اړتياوو لپاره ګټه اخلي، خو بايد د اور د خطرونو په اړه هم احتياط وکړي؛ ځکه بې‌احتياطي د انسان ژوند، کورونه، ځنګلونه او نورې شتمنی له خطر سره مخ کوي.

د تدبر لپاره:

- ايا کله مو د اور د ګټو او د هغه د سرچينې په اړه فکر کړی؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- ایا د اور د کارولو پر مهال د نورو خلکو او چاپېریال د خوندیتوب خیال ساتو؟
- ایا د دې نعمت په لیدلو سره د الله تعالی قدرت او حکمت راپه یادېږي؟

د فکر پایله: انسان اور بلوي او کاروي یې، خو د اور د سرچینو او د هغه د رامنځته کېدو د نظام خالق یوازې الله تعالی دی. دا نعمت باید په ګټوره او خوندي توګه وکارول شي.

نهم بحث: د انسان خپل وجود؛ د الله تعالی د پېژندنې تر ټولو نږدې نښه

انسان ډېر وخت د ځمکې، اسمان، لمر، سپوږمۍ او نورو لرې شیانو په اړه فکر کوي؛ خو کله ناکله له خپل وجود څخه غافل وي، حال دا چې د الله تعالی د قدرت او حکمت نښې د انسان په خپل بدن کې هم څرګندې دي.

د انسان بدن له بېلابېلو غړو او نظامونو جوړ دی:

- زړه وینه د بدن بېلابېلو برخو ته پمپ کوي.
- سږي د ساه اخیستلو او د اکسیجن د ترلاسه کولو دنده ترسره کوي.
- دماغ د بدن ډېر فعالیتونه تنظیموي او د فکر، حافظې او ادراک مهم مرکز دی.
- سترګې د لیدلو، غوږونه د اورېدو او ژبه د خبرو او خوند پېژندلو وسیلې دي.
- حجرې د بدن د جوړښت بنسټیز واحدونه دي او هره یوه د خپل ځانګړي جوړښت او دندې له مخې فعالیت کوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د انسان بدن د ډېرو پېچلو نظامونو مجموعه ده. د وينې جريان، تنفس، هضم، عصبي اړيکې، دفاعي نظام او نور فعاليتونه په يوه له بل سره تړلي نظام کې ترسره کېږي.

انسان د طب، بيولوژۍ او نورو علومو په مرسته د بدن د غړو او دندو په اړه معلومات ترلاسه کوي، ناروغۍ پېژني او د درملنې لارې چارې لټوي؛ خو د انسان د بدن خالق انسان نه دی.

الله تعالی انسان پيدا کړی، د هغه بدن يې جوړ کړی او د ژوند لپاره يې اړين نظامونه ورته برابر کړي دي. انسان نه د خپل ځان خالق دی او نه د ژوند؛ د انسان او د هغه د ژوند د ټولو اړينو نظامونو خالق يوازې الله تعالی دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ ۝ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ (١٨)

ژباړه: او په ځمکه کې د يقين لرونکو لپاره نښې دي، او ستاسو په خپل ځانونو کې هم؛ ايا تاسو نه وينئ؟

دا آيت مونږ ته د خپل وجود په اړه د فکر کولو بلنه راکوي. انسان بايد يوازې د خپل بدن له ظاهري ښکلا سره بوخت نه وي، بلکې د بدن د جوړښت، د غړو د دندو او د ژوند د نعمت په اړه هم فکر وکړي.

د انسان د بدن په اړه پوهه بايد د الله تعالی د پېژندنې، د نعمتونو د شکر او د ژوند د درناوي لامل شي. روغتيا بايد په ګناه، ظلم او د نورو د حقونو په ضايع کولو کې ونه کارول شي؛ بلکې د الله تعالی په اطاعت او د خلکو په ګټه کې وکارول شي.

د تدبر لپاره:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- ایا کله مو د خپل زړه، سترګو، ساه او نورو غړو د نعمت په اړه فکر کړی؟
- ایا د روغتیا په نعمت شکر ادا کوو؟
- ایا خپل بدن او ژوند په هغو چارو کې کاروو چې الله تعالی پرې راضي کېږي؟

د فکر پایله: د انسان خپل وجود د الله تعالی د قدرت، علم او حکمت یوه لویه نښه ده. څوک چې په خپل وجود کې فکر کوي، باید د خپل خالق عظمت وپېژني او د هغه د نعمتونو شکر ادا کړي.

لسم بحث: د علم او تدبر توپیر؛ له معلوماتو څخه د ایمان، شکر او مسؤلیت پر لور

تر دې ځایه مو د شپې او ورځې، د ځمکې د حرکت، فصلونو، بادونو، وریځو، باران، اوبو، تخمونو، اور او د انسان د بدن په اړه خبرې وکړې.

په دې ټولو بحثونو کې مو علمي معلومات هم وړاندې کړل. خو دلته یوه مهمه پوښتنه پیدا کېږي: ایا یوازې د معلوماتو ترلاسه کول د تدبر معنا لري؟

ځواب دا دی چې نه!

علم انسان ته د یوې پدیدې د څرنګوالي په اړه معلومات ورکوي؛ تدبر بیا انسان دې ته هڅوي چې د هغې معنا، پایلې، ارزښت او پیغام ته هم پام وکړي.

د ښلګې په توګه:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- علم مونږ ته ښيي چې شپه او ورځ د ځمکې د څرخي حرکت له امله رامنځته کېږي؛ تدبر مونږ ته د شپې د ارام او د ورځې د کار د نعمت ارزښت رابنيي.
- علم د باران د جوړېدو او ورښت بهير تشريح کوي؛ تدبر مونږ ته د الله تعالى د رحمت، د ژوند د دوام او د شکر اړتيا راپه ګوته کوي.
- علم د تخم د شنېدو پراوونه بيانوي؛ تدبر مونږ ته د الله تعالى خالقيت او د نباتاتو د ژوند د نظام عظمت رابنيي.
- علم د انسان د بدن غړي او دندې پېژني؛ تدبر مونږ ته د خپل خالق د پېژندنې، د روغتيا د شکر او د ژوند د مسؤليت احساس راکوي.

البته، علمي معلومات بايد د کره څېړنې او شواهدو پر بنسټ وي. همدارنګه، د قرآن کريم آيتونه بايد د خپل سياق او د معتبر تفسير په رڼا کې وپېژندل شي. هره نوې علمي مونده بايد په بې‌دليله توګه د يوه ځانګړي آيت د تفسير په توګه ورانديې نه شي.

قرآن کريم د انسان د هدايت کتاب دی. دا انسان ته د الله تعالى د پېژندنې، د حق او باطل د توپير، د عبادت او نېک ژوند لارښوونه کوي. د کاينناتو نښې انسان فکر کولو ته رابولي، څو د الله تعالى قدرت، علم، حکمت او ربوبيت وپېژني.

د دې تدبر عملي پايلې بايد زمونږ په ژوند کې څرګندې شي:

۱. **شکر:** د الله تعالى د نعمتونو په وړاندې د زړه، ژبې او عمل له لارې شکر ادا کول.

۲. **تواضع:** د علم او پوهې له زياتېدو سره بايد انسان متواضع شي، نه مغرور.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

۳. د علم زده‌کړه: د کاینناتو او ژوند په اړه د ګټور علم ترلاسه کولو ته دوام ورکول.

۴. د چاپېریال ساتنه: د اوبو، ځمکې، نباتاتو او نورو نعمتونو ساتنه کول.

۵. د خلکو د حقونو درناوی: د طبیعي نعمتونو په کارولو کې د نورو خلکو حقونه نه ضایع کول.

٦. عبادت او بندګي: د الله تعالی د پېژندنې پایله باید د هغه عبادت، اطاعت او اخلاص وي.

د تدبر لپاره وروستۍ پوښتنې:

- ایا زموږ علم موږ د الله تعالی پېژندنې ته نږدې کوي؟
- ایا د کاینناتو د نښو په لیدلو سره زموږ ایمان او شکر زیاتېږي؟
- ایا موږ د الله تعالی نعمتونه په مسؤلانه توګه کاروو؟
- ایا د عقل او فکر له نعمتونو څخه د حق پېژندلو او د الله تعالی د اطاعت لپاره ګټه اخلو؟

پایله

د کاینناتو هره برخه د فکر او تدبر لپاره یوه دروازه ده. شپه او ورځ، ځمکه او لمر، فصلونه، بادونه، ورېځې، باران، اوبه، تخمونه، نباتات، اور او د انسان خپل وجود؛ دا ټول د الله تعالی د قدرت، علم، حکمت او ربوبیت نښې دي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

انسان کولای شي د دې پدیدو په اړه علم ترلاسه کړي، طبیعي لاملونه یې وڅېړي او د ژوند د اسانتیا لپاره تري ګټه واخلي؛ خو د دې ټولو مخلوقاتو خالق یوازې الله تعالی دی. نه ځمکه انسان پیدا کړې، نه لمر او سپوږمی، نه نباتات او نه انسان خپل ځان پیدا کړی دی. د ټولو خالق، مالک او مدبر یوازې الله تعالی دی.

له همدې امله د علم او تدبر موخه باید یوازې د معلوماتو زیاتول نه وي؛ بلکې د الله تعالی پېژندنه، د هغه د نعمتونو شکر، د خپل مسؤلیت درک او د هغه عبادت ته ژمنتیا هم باید ورسره مل وي.

په پنځمه برخه کې مو د عقل، فکر، تدبر او غفلت بنسټیز مفاهیم وپېژندل؛ په دې شپږمه برخه کې مو ولیدل چې څنګه د عقل او تدبر په مرسته د الله تعالی د قدرت نښې په خپل شاوخوا او خپل وجود کې پېژندلای شو.

نو راځئ چې د کایناتو نښې یوازې په سترګو ونه وینو، بلکې په عقل او زړه یې هم درک کړو؛ یوازې معلومات ترلاسه نه کړو، بلکې له هغو څخه د ایمان، شکر او نېک عمل لپاره ګټه واخلو.

سبحان الله! څومره ستر دی هغه ذات چې دا ټول نظامونه یې پیدا کړي، تنظیم کړي او د ژوند لپاره یې په خپل حکمت برابر کړي دي.

سرچینې او حوالې

۱. القرآن الکریم، سورة آل عمران، آیت ۱۹۰.

۲. NASA، Facts About Earth، د ځمکې د حرکت او ځانګړتیاوو په اړه معلومات:

/https://science.nasa.gov/earth/facts

۳. القرآن الكريم، سورة القصص، آيتونه ۷۱–۷۳.

۴. NASA، Seasons on Earth, Mars, and Beyond، د فصلونو د بدلون د علمي لاملونو په اړه:

https://science.nasa.gov/helio-and-you-seasons-on-earth-mars-and-beyond/

۵. NOAA، Origin of Wind، د بادونو د رامنځته کېدو په اړه:

https://www.noaa.gov/jetstream/synoptic/origin-of-wind

٦. القرآن الكريم، سورة الروم، آيت ۴۸.

۷. NOAA، How Clouds Form، د وريځو د جوړېدو په اړه:

https://www.noaa.gov/jetstream/clouds/how-clouds-form

۸. NOAA، Precipitation، د ورښت د رامنځته کېدو په اړه:

https://www.noaa.gov/jetstream/atmosphere/precipitation

۹. القرآن الكريم، سورة الروم، آيت ۵۰.

۱۰. NOAA، The Water Cycle، د اوبو د دوران په اړه:

https://www.noaa.gov/education/resource-collections/freshwater/water-cycle

۱۱. القرآن الكريم، سورة الواقعة، آيتونه ٦٨–۷۰.

۱۲. القرآن الكريم، سورة الملك، آيت ۳۰.

۱۳. ۱۰۱ Germination، University of Missouri Extension، د تخم د شنېدو په اړه:

https://extension.missouri.edu/news/germination-۱۰۱

۱۴. National Geographic Society، Photosynthesis، د نباتاتو د ضيايي ترکيب په اړه:

https://education.nationalgeographic.org/resource/photosynthesis/

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

١٥. القرآن الكريم، سورة الواقعة، آيتونه ٦٣-٦٥.

١٦. National Institute of Standards and Technology (NIST)، Fire Triangle، د اور د بلېدو د

درېيو اساسي شرايطو په اړه:

https://www.nist.gov/glossary-term/٢٣٩٣١

١٧. القرآن الكريم، سورة الواقعة، آيتونه ٧١-٧٣.

١٨. القرآن الكريم، سورة الذاريات، آيتونه ٢٠-٢١.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish